بسم الله الرحمن الرحیم

**د اسلام له نظره انسان ته د خنزیر جنتیکي-اصلاح شوي زړه پیوند**

د پاکستان اکسپرس تریبون ورځپاڼي د 2022 م، د جنوري په 30مه په یوه راپور کې ویلي: '« لومړی ځل دی چې یوه ناعلاجه ناروغ ته د خنزیر جنتیکي اصلاح شوی زړه پیوند کیږي، دې کار په مسلمانانو او نړۍ کې تاوده بحثونه راپورته کړي. په ټولینزو رسنیو او بهر کې خلکو دا غوغا پورته کړې، چې د اسلام له نظره د یوه حرام خنزیر زړه پیوند انسان ته څنګه دی. په همدې لړ کې، اکسپرس تریبون له مفتي ډاکټر ارشاد اعجاز سره اړیکه ونیوله ترڅو دغه پرمختګ روښانه کړي. مفتی اعجاز د شرعیت یو تکړه عالم دی چې په فقه او فتوا کې تخصص لري.»

اوسمهال چې رسنۍ د لیبرال نظرونو خپرولو لپاره په ټوله اسلامي نړۍ کې استفاده کیږي، د حرانتیا خبره ده چې رسنۍ په داسې یوه موضوع بحث کوي، چې د اسلامي امت په چارو پورې اړه لري. دین یو کامل نظام دی، د هر عمل او شي لپاره یې پوره لارښوونه کړې او د پوره منلو لپاره دی. په حقیقت کې، دا د رسنیو دنده ده چې د پیښو په اړه اسلامي موقف وړاندې کړي. همدارنګه د اسلام پر اساس امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اسلامي علماوو دنده ده، چې د خلافت اړوند حکام یې له ځنډ پرته عملي کړي.

ناعلاجه ناروغ ته د خنزیر جنتیکي اصلاح شوي زړه پیوند او د درملنې په موخه  د نجسو او حرامو شیانو کارول په اسلام کې جواز نه لري. د طبي درملنې لپاره د حرام او نجس څخه ګټه اخیستنه په سنت کې ثابته شوې او سنت د قرآن کریم روښانه کوونکي دي.

خنزیر په اسلام کې حرام دی. الله تعالی فرمایلي:

{**حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ**} [المائده: 3]

***ژباړه:*** *پرتاسو حرام کړل شوي (د خوراک لپاره)؛ مردار شوي حیوانات، وینه، د خنزیر غوښه.*

اسلام له حرامو څخه ګټه ترلاسه کول حرام کړي دي. ابو داود له ابو هریره رضی الله عنه څخه نقل کوي چې رسول الله فرمایلي:

**«إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ الْخَمْرَ وَثَمَنَهَا وَحَرَّمَ الْمَيْتَةَ وَثَمَنَهَا وَحَرَّمَ الْخِنْزِيرَ وَثَمَنَهُ»**

***ژباړه:*** *الله تعالی شراب او د هغه قیمت حرام کړي، مردار شوی حیوان او د هغه قیمت یې حرام کړی، خنزیر او د هغه قیمت یې حرام کړی.*

بخاری له جابر بن عبدالله څخه روایت کوي، چې هغه له رسول الله څخه اوریدلي:

**«إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لاَ هُوَ حَرَامٌ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ»**

**ژباړه:** *د مکې د فتحې په کال کې مې له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه واورېدل، چې هغه وفرمایل؛ " الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د شرابو، مردار شویو حیواناتو، خنزیر او بتانو تجارت حرام کړ، خلکو پوښتنه وکړه چې یا سول الله! د مردار شویو حیواناتو وازده څنګه، چې د بېړیو او پوست په غوړولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي او خلک ورڅخه د پوست او بېړۍ روښانه کولو لپاره ګټه اخلي؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل، "نه، دا کار حرام دی." رسول وویل؛ د الله تعالی لعنت دې وي پر یهودانو، الله تعالی د حیواناتو وازده پر هغوی حرامه کړه، خو هغوی وازده ویلې کړه، خرڅه یې کړه او ګټه یې وخوړله."*

د حرامو شیانو څخه په طبابت کې ګټه اخیستل حرام نه دي، دا په نبوي سیرت کې روښانه شوي. مسلم له انس رحمه الله څخه روایت کوي:

**«رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَوْ رُخِّصَ لِلزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لِحِكَّةٍ كَانَتْ بِهِمَا»**

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه و سلم زبیر بن عوام او عبدالله بن عوف ته د خارش درلودلو له امله د ابریشم اغوستلو اجازه ورکړه.

د ابریشم اغوستل د نارینه وو لپاره جواز نه لري، مګر په طبابت کې اجازه شته. نسایي له عرفه بن سعد څخه روایت کوي:

**«أَنَّهُ أُصِيبَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلاَبِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ»**

***ژباړه:*** *د هغه پزه په جاهلیت کې د الکلاب په جګړه کې غوڅه شوې وه، هغه د سپینو زرو پزه جوړه کړه چې ورو ورو اوبه کېدله، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته وویل چې له سرو زرو څخه ځانته پزه جوړه کړه." سره زر د نارینه وو لپاره منع دي، مګر په طبابت کې یې کارول جواز لري.*

له دې سره، د نجسو شیانو کارول په طبابت کې منع نه دي، دا هم نبوي سنتو ثابته کړې، بخاری له انس رحمه الله څخه روایت کوي:

**«أَنَّ نَاسًا، اجْتَوَوْا فِي الْمَدِينَةِ فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَلْحَقُوا بِرَاعِيهِ ـ يَعْنِي الإِبِلَ ـ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا، فَلَحِقُوا بِرَاعِيهِ فَشَرِبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا، حَتَّى صَلَحَتْ أَبْدَانُهُمْ»**

**ژباړه:** *د مدينې اوبه او هوا په ځينو خلکو نه لګېدله، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته د چوپان څخه د پيروی امر وکړ يعنې د اوښانو شيدې او بولې دې وخوري (د دوا لپاره). نو هغوی له چوپان څخه پيروي وکړه او د اوښانو شيدې او بولې يې وخوړې تر هغو چې جوړ شول."*

ځيني خلک ناروغ شول، نو رسول الله اجازه ورکړه چې له بولو څخه استفاده وکړي؛ سره له نجس توبه يې.

اسلام د ژوند کامله لاره ده، کله چې يوه ستونزه رامنځ ته کيږی، نو مسلمانان بايد قرآن او سنتو ته رجوع وکړي. الله تعالی فرمايلي:

**{فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ} [النسأ:3]**

**ژباړه:** *که ستاسې ترمنځ کومه شخړه پيښه شي، الله او د هغه رسول ته يې وړاندې کړئ.*

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللهِ وسُنَّةَ نَبِيِّهِ»**[امام مالک موتا]

**ژباړه:** *ما تاسو ته دوه شيان پريښي دي که تاسو په هغو منګولې ولګوئ هېڅکله به ګمراه نه شی، د الله تعالی کتاب او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم سنت.*

پريږدئ چې مسلمانان په عام ډول او علما او خبرنګاران په خاص ډول، د مسلمانانو ټولو چارو ته د وحې له نظره وګوري. پريږدئ چې د وحې آيتونه په ځير سره وګوري او د خلافت پيړيو له فقهي ميراث څخه سمه ګټه واخلي. پريږدئ چې اسلامي ټولنې د يونان له فلسفې، شرق پيژندنې، غربي عقل ګرايی، کاپيټاليزم، انحرافي مډرنيېزم او هيومانېزم له فسادي مفکورو څخه پاکې شي. دا موضوع به د خلافت بيا راتګ ته قوي فضا جوړه کړي او د خلافت بيا راتګ په ثواب کې به يې ګډون کړی وي. الله تعالی دې زموږ ټولو طاعتونه قبول کړي، چې د اطاعت کوونکو په اول صف کې راشو او د غفلت له امله ګناهکار نه شو.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**مصعب عمير – ولايه پاکستان**